# معلول او تعلیم

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

## دریم ټولګی، دویم سمستر، دویمه سویه




د آزمایښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# معلول او تعلیم

د دریم ټولګي د ځلېروېشتمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان يې لولي» پروژې
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی

لیکوال: سرمؤلف  محمد سهراب دیدار

ایډېټور: د مؤلف مرستیال نصیراحمد امرخېل

انځورګره : بهشته محسنی

**د تصحیح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شایق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



حبیب الله د خپل کور په مخکې
خواشینی ولاړ و.
د هغه خور ورېمه له ښوونځي
څخه راغله.
ډېره خوشحاله وه.

وړمې ورور ته وويل:
وروره!
نن يې نوي کتابونه راکړل.
ښايسته تصويرونه لري.
وړمې خپل ورور ته کتابونه
وروښودل.
حبيب الله تصويرونه کتل.
خور ته يې وويل:
کاشکې زه هم په ښوونځي کې
وای.
کاشکې لاس مې روغ وای.



وږمې ورته وويل:

وروره! خواشينى کيږه مه.

ته هم ښوونځى لوستلاى شې.

ته که په يوه لاس معلول يې، بل

لاس دې کار کوي.

حبیب الله خور ته وویل:
ای خورې! باور مې نشي چې
ښوونځی دې ولوستلای شم.
دې معلول لاس بېخي نااميده کړی
يم.
خور ورته وویل: وروره! داسې
مه وايه.
زموږ په ټولګي کې هم یوه
معلوله نجلۍ شته.
هغه ډیره تکړه ده.
ته به هم تکړه شې.



ورمې پلار ته وويل:

پلاره! د ورور مې ښوونځی ډېر

خوښېږي.

پلار يې وويل: ښه خبره ده.

خو اوس وړوکی دی. کال ته به

يې په ښوونځي کې شامل کړم.

حبیب الله به ورځې شمېرلې چې
کله به په ښوونځي کی شامليږی.
خو دا وخت هم را ورسېد.
حبیب الله په ښوونځي کی شامل
شو.
سرښوونکي حبیب الله ته نوي
کتابونه ورکړل.
په کتابونو کې ښایسته تصویرونه
وو.
ښایسته کیسې وې.
حبیب الله ډېر ورته خوشحاله و.




اوس هغه په مینه ښوونځي ته ځي.

په درسونو کې ډېر تکړه دی.

ځکه چې خور یې ورسره مرسته کوي.

د حبيب الله خط ډېر ښايسته شوی
و.
ورېمې د هغه خط مور او پلار ته
وښود.
پلار يې ويل: آفرين زويه!
ځومره ښکلی خط دې ليکلی دی.
حبيب الله ورته وويل:
دا هرڅه مې د خور له برکته
دی.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.